## د راپور لنډيز

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د ولسمشر حکم، د متقابلې حسابورکونې د چوکاټ له لارې په ځان بساینې(SMAF)سند او د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې ملي ستراتيژي، د افغانستان حکومت ټول عايداتي او پاليسي جوړونکي وزارتونه مکلفوي چې اداري فساد سره د مبارزې خپل پلانونه تدوين کړي او د پلي کيدو له بهير څخه يې خلکو ته راپور ورکړي.

د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکې ګډې کميټې د يوې خپلواکې کميټې په توګه چې په افغانستان کې د فساد په وړاندې د مبارزې د ملي او نړيوالو هڅو څارنه کوي، د کليو د پراختيا او بيارغونې وزارت د فساد په وړاندې د مبارزې پلان ارزولی دی. د دغې ارزونې موخه د ياد وزارت د فساد په وړاندې د مبارزې د پلان د تدوين او پلې د پړاونو د نيمګړتياوو په ګوته کول او د نيمګړتياوو د لمنځه وړلو په موخه د ځانګړو سپارښتنو صادرول دي.

د يادې ارزونې موندنې ښيي چې د کليو د پراختيا او بيارغونې وزارت د زيانمننو د تشخيص په موخه د احتمالي خطرونو ارزونه نه ده ترسره کړې او د احتمالي خطرونو د لمنځه وړلو لپاره يې کوم هر اړخيز پلان نه دی چمتو کړی. سر بيره پر دې، د هغې کميټې د غړو شمير ډير کم دی چې د نوموړي وزارت د اداري فساد سره د مبارزې پلان د جوړولو او تدوين په موخه ګمارل شوې وه. سر بيره پر دې، ډيری مهمو رياستونو ته د ياد پلان د تدوين په بهير کې ونډه نه وه ورکړل شوې. له بله پلوه، د کليو د پراختيا او بيارغونې وزارت ياد پلان د وزارت له ټيټ پوړو کارکوونکو سره شريک او همغږی کړی نه دی.

د ارزونې پر مهال، دا و موندل شوه چې ياد وزارت د پلان د تطبيق څخه د څارنې، په پروسه کې د نيمګړتياوو د تشخيص او په دې برخه کې د وزارت مشرتابه ته د راپور ورکولو لپاره کوم ځانګړی ټيم نه دی ګمارلی.

د کليو د پراختيا او بيارغونې وزارت د اداري فساد سره د مبارزې پلان څلور لومړيتوبونه او نهه فعاليتونه لري چې له دې ډلې څخه درې فعاليتونه په بشپړه توګه ، درې نور يې قسما او يو يې په تيرو کلونو کې پلي شوي دي او دوه نورې يې تر اوسه نه دي پلي شوې. د فساد په وړاندې د مبارزې پلان کې ځينې داسې فعاليتونه شته چې په تيرو کلونو کې ترسره شوي دي، خو بيا هم د دغه پلان د روان کال په فعاليتونو کې شامل شوې دي. همدارنګه ځينې نور فعاليتونه هم شته چې تطبيق شوي دي ، خو په هکله يې اسناد موجود ندي.

د څارنې او ارزونې کميټې د کليو د پراختيا او بيارغونې وزارت د اداري فساد سره د مبارزې پلان د سمون او د ياد پلان د پلي کيدو لړی څخه د سمې څارنې په موخه ياد وزارت ته اته ځانګړې سپارښتنې وړاندې کړې دي.